محمد یوسف صابر ساپي
۲۰۲۰/۰۹/۱۰

# سیده لار

زموږ خونړی تاریخ د دې شاهد دی،چې استقلال په جګړو ترلاسه کیږي،خو په جګړو نه ساتل کیږي.برخلاف کورنۍ جنګ -جګړې او بې اتفاقۍ باندینیو نوبتي مداخلو ته زمینه برابروي. خپلواکه ژوند تر هر څه دمخه،په سوله کې په خپل اقتصاد ژوند کول دي،په خپل فرهنګ ویاړل دي.سیاسي استقلال پرته له اقتصادي خپلواکۍ نه ممکنه ده او نه معنی لري.زموږ محبوب وطن دقیقاً همغه وخت د باندني تاخت او تاج لاندې راغلي،کله چې د نړۍ د تمدن او ترقي له کاروانه وروسته پاتې شوی دی.همدا داخلي شخړې هیواد پرمختګ او هوسایني ته نه پرېږدي.
د خپلواکۍ د جګړو ورته پایلو څخه جوتیږي،چې خپلواکي او پرمختګ یو دبل سره ټینګ تړلي دي.د هیواد سیاسي استقلال د مملکت د اقتصادي خودکفایي څخه پرته ساتل کیدی نه شي او د وطن اقتصادي پرمختیا د سیاسي خپلواکۍ پرته ممکن نه ده او که ظاهراً ممکن هم وي،د باوقاره انساني ژوند له پاره هیڅ ارزښت نه لري.« څه به کړم ګلشن په ټیټو سترګو د اغیار سره».
د وطن اسقلال که په جنګیالیتوب او سربښندنې سره،چې زموږ د خلکو ویاړلی خاصه ده،ترلاسه کیږي؛ترقي او تشدد بیا یو د بل سره مخالف لورې طی کوي. که د شوروي او امریکایي اشغال ختم پرته له جګړو او مقاومت امکان نه درلود،داخلي شخړې او جګړې بیا د هیواد پرمختګ او امنیت په وړاندې اساسي خنډونه دي.
ولې د ستر احمدشاه بابا لمسي ـ شاه شجاع پنجابیانو او انګریزانو ته ،تش په نامه پاچاهي په بدل کې له نیمایي افغانستانه او له خپلې ملي آبرو تیر شو؟ د لیونتوب ترسرحده زړور دوست محمد خان څه شي ټیټې سترګې انګریزانو ته ودراوه؟ د ناپیلیون په شان د جنګي مهارت لرونکی عبدالرحمان خان ولې د ظالم پرنګي ترحم ته کښیناست؟ ببرکي کارمل ولې د شوروي شلیدلې لمن ونیوله؟ د سرکښه کندهاریانو له کرښې رابیل شوی کرزی څه له، د نامرده امریکایانو لاسونوته ټیټیده؟ «نړیوال متفکر» ولې دومره کم عقلي کوي،چې د خپلواکۍ په لار کې خنډونه اچوي؟ عبدالله ولې د الله بنده ګي په ځای د امریکایانو بنده ګي ته خوشحاله دی؟ د نورو ټیټ سترګیو به تپوس نه کوو،چې د سرې زړه خورې. ولې خارجي داړه مارانو یواځې زموږ د سترګو په وړاندې ،سپیڅلی افغانستان دوه پلا لوټولی وشو؟ په سمه لویه لار خو داړه مار، داړې ته ودریدلی نه شی. ولې د یو ننګیالي ملت ولس اومشران ټول لاره ورک کوي،د جګړو او بحران څخه د وتلو لار نه شي پیداکولی؟ په سمه لویه لار خو سړی لار نه ورکوي...
دا هغه دردناکه پوښتنې دي،چې واحد ځواب یې افغان ملت څخه نشته.
استعمار که په ځای پرېږدو ،چې خاصیت یې لوټماري ده، څه شي د یو مسلمان ملت مشران اړ باسي،چې باندینیو ته لاس په نامه ولاړ اوسي:
١ـ دنننی جګړې،بې اتفاقي؛
٢ـ که اقتصادي مجبوریتونه،
٣ـ او که دواړه؟
د باندینیو سره تر جګړې وروسته،کورنۍ شخړې او اقتصادي مجبوریتونه دواړه په ځای پاتې کیږي.دواړه د اوږدو استعماري جګړو محصول دي.د افغانستان روانه جګړه هم له پیله د پوځي ستراتیژستانو له خوا،د ویتنام جګړې په څیر، د امریکا د نظامي صنعت په فرمایش،همداسې تنظیم شوې وه،چې جګړه بیز بری به د یوې خوا هم نه په برخه کیږي او جګړه به تر دې دمه اوږدیږي.د وسلو او پوځي تخنیک تولید او سوداګرۍ د امریکا د مجموعي اقتصاد غوره او ګټوره برخه ده . د افغانستان یا عراق په څیر «کوچنۍ» جګړې د پوځي صنعت د پیداوارو د خرید او فروش بازار ښه تود ساتي.د داسې جګړو کنترول هم ورته آسانه دی. په دا ډول جګړو کې د استعماري ځواک داخلي متحدین،په کلاسیکه توګه د وسلو او نیشه یي توکو سوداګر،د پیسو دلالان ،جګړه ماران، بدماشان،غله او رهزنان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيز بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

دي.د ویتنام په جګړه کې همداسې وه،د افغانستان او عراق په جګړو کې هم همداسې ده.داخلي جګړه ماران د باندینیو د څواک بنسټ جوړوي.پیاوړي رسنۍ او کارکونکي یې د هغوي کمزوري مرستندویان دي.پرته له داخلي متحدینو،خارجیان هیڅ نه شي کولی.همدغه شکیلونکي جګړې د هیواد دننني کړکیچونه دومره ژور کړي او ملي اقتصاد یې داسې نابود کړي ،چې بیا رغول یې معجزه غواړي،پیاوړې ملي اراده او لوړ ملي شعور غواړي.
دا چې اوس د امریکا دولت د یو **عالم کورنیو ستونزو، نړیوالو پرابلمونو ، عامه ذهنیت او افغاني مقاومت تر فشار لاندې،** د طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړ،د وتلو اراده یې ښودلې ده او افغانستان یې لا د داخلي متحدینو په منګولو کې پاتې دی، دا هغه فرصت دی،چې ښایي د افغانستان خلک خپل سیاستوال اړباسي تر څو لدې موقع څخه د خپلواکۍ او دایمي سولې له پاره اعظمي استفاده وکړي،که نه په اوسنیو چاراواکو کې خو د خپلواکه او سوله ییز ژوند ظرفیت نه لیدل کیږي.دغه فرصت هم په زماني لحاظ محدود دی،د روان میلادي کال په پای کې د امریکا متحده ایالتونو جمهوري ریاست ته ټولټاکنو پورې مخامخ تړلی دی.جمهور رئیس ترمپ ،چې غواړي بیا هم په انتخاباتو کې ګټونکی وي ،د طالبانو سره د سولې تړون ،خپلو ټاکونکو په وړاندې د یو ستر دست اورد په توګه ،د هغوی د رایو په بدل کې پلوري.د طالبانو سره د تړون پابندي به هم تر ټولټاکنو پورې جدي وي.که ترمپ ګټونکی شي،دا چې یې اخري دور دی او د اساسي قانون پر بنسټ د دریم ځل له پاره د ټاکني حق نه لري،نو د دا ډول تړونونو پابندیو ته هم بیا ارزښت نه قایل کیږي او که «مخالف» دموکرات ګوند استازي -جو بایدن یې وګټي،هغه خو بیا هیڅ ډول پابندۍ ته غاړه نه ږدي هغه خو هسې له اوله د تړون مخالف او د یو خپلواک افغانستان ضد دی.
د هیواد د بحران باندني اړخ که یوې خواته پریږدو،د هیواد دننه د سیاست په ډګر کې **دوې ډلې** ،چې ټولو څخه لار ورکه ده،آغیزمنې پاتې کیږي:
الف -فعال سیاسي تنظیمونه(ډلې)؛
ب -په سیاسي لحاظ غیر فعال عام ولس.

**الف-په داخلي کشمکشونو کې فعاله سیاسي ډلې:**
۱- برحال جمهور رئیس **اشرف غني او ډله یې** ،چې شاید په یو خپلواک او سوله ییز افغانستان کې د خپلو اقتصادي پلانونو سره هیواد ته ګټور تمام شوی وای،اما په بلواکۍ او جګړو کې د هغه فعالیتونه داسې مثال لري لکه بې اودسه ،چې لمانځه ته ودریږي.هغه پنځه شلې ریښتیني پلویان نه لري،پوځې مټ نه لري،د پله بینو،غوړه مالو،چکچکیانو یو قشر ورپسې دی او دا هغه قشر دی، چې د هیواد د ځلورو لسیزو غمیزو په اوږدو کې رامنځته شوی او په کابل کې د هر برحال واکمن شاته ولاړ وي او هر واکمن لومړي ګوزار هم د همدوی له خوا خوړلی دی.غني خپلو خارجي دوستانو ته هم ښایي د سویلي ویتنام د جمهور رئیس (دین بیم) څخه،چې په خپله یې بیا مړ کړ،هم زیات ارزښت و نه لري. ورپاتې کیږي روڼا غني او خلیل زاد او په تیارو کې غزیدلې د هغوی نړیوالې اړیکې.
۲- **شمالي ټلواله :** په خپلو منځنو کې د غنیمت افغانستان په سر،په ډلو ویشل شوې ډله ده،چې روسیې په نوي جهاني وضعه کې د پیشخدمتې په توګه د امریکا چوپړ ته وړاندې کړې ده،په داخل کې هر یو -عبدالله ،رباني،عطامحمد،دوستم،محقق یې ځانته ډنګوي،هر یو یې ځانته د لنډغرو یو اجیر لښکر لري. د روسیې،امریکا،ایران،پاکستان،ترکیې،هند،آن اسراییلو فرمایشونه د پیسو په بدل کې سرته رسوي.په هیواد کې زیاتره خونړۍ پیښې د دغه ډول فرمایشونو محصول دي،چې سر او بر یې هیڅ نه معلومیږي.که د پیسو لاره پرې بنده شي،چې د زور وځواک اصلي وسیله یې ده،نو د پلویانو شمیر یې ښایي د افراطي،رواني رنځورانو په مافیاوي ډوله کوچنیو ډلو کې محدود پاته شي.
داخلي وزلوبه ځیني نور لوبغاړي هم لري،اما په مجموع کې د خپلو ټولو مخالفتونو سره سره،په ګډه د موجوده استعماري اداري متشکله اجزاوې دي.
۳-**طالبان** دي،چې اوس د خارجي ځواکونو د شړلو په ولسي پاځون کې، د افغانستان د خلکو بشپړ عیار مقاومت په سر کې قرار لري ،د خپل ټول قرون اوسطایي چلند سره سره به د هیواد احتمالي خپلواکۍ ویاړ په غاړه ولري .د دوی له دغه افراطي دریځ پرته ،باندني ځواکونه له هیواده وتونکي نه دي.د باندینیو ځواکونو تر بشپړ وتلو پورې ،ښایي د ولس ملاتړ له ځان سره ولري،اما د هغه یو پلا آزمایل شوي اسلامي امارت بیا خیال،چې طالبان یې په سر کې ګرځوي او ورسره به په زور زیاتي ، په بشپړ مسلمان ملت «خپل شریعت» چلوي،عملي نه دی،هیڅ ډول دیني منطق نه لري ،سیاسي او پردي ریښې لري .«ساقي راته آشنا دی،خو جامونه بیګانه دي» . آزموده را باز آزمودن خطا است.خلافت یې چیرته دی،چې امارت یې دلته وي!
د معاصر نړیوال تاریخ له پاڼو او له ځیرځیر ځار څخه را څرګندیږي،چې (ISI) او(MI6)) د طالبانو په جامه کې ،چې شاید د طالبانومشرۍ ترې خبره هم نه اوسي یا چاره نه لري،د طالبانو په ساحه کې خپل فعال جزوتامونه لري،چې هر یو یې جدا جدا موخې لري: یو یې په تخریبي فعالیتونو بوخت دي،نه غواړي،چې افغانستان آرام پیداکړي،فرصت لټوي ،چې څنګه بیا دافغانستان وسله وال پوځ له پښو وغورځوي او نوری دولتي اداري او موسسې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ړنګي کړي ؛او بل يې د طالبانو په ضد د جبهې په شا کې جنګيږي.همدغه کار، خاصتاً افغاني «روښانفکران » سربېړاله کړي،د مقاومت په موخو يې شکمن کړي او ويرولي دي.

## ب -بې تنظيمه عام ولس:

چې دوه ځانګړنې او مشترکې وجې لري.

- نږدې ټول ټينګ مسلمانان دي،چې په دين کې بشپړ ننوتلي دي،ځيني يې آن« هاخوا پورې وتلي دي.»
- د خارجي يرغلګرو په مقابل کې نه پخلاکيدونکي دښمني او د مقاومت روحيه.

د عامو پرګنو د ملي او سياسي شعورسطحه دومره ټيټه ده،چې ډير کله د خپلوملي ګټو او خير سنجولوتوان نه لري . ځيني يې آن د ځو کلدارو په بدل کې هم د طالبانو په ليکه کې او هم د شوراى نظار په ليکو کې ،يو دبل په ضد جنګيږي. متاسفانه،دا مو د ټولني تريخ عيني واقعيت دى.

همدغه تيت اوپرک ولس که نن د خارجي ځواکونو د وتلو له پاره د طالبانو سره هم غږي دي،چې همدا **د مقاومت د ځواک بنسټ** جوړوي،سبا په يو خپلواک افغانستان کې ښايي د هيڅ جګړه مار شاته ونه دريږي.هله به خلک دوه غوره غوښتني ولري:

- **سوله ،امنيت.**
- **کار ،يوه مړى ډوډى.**

سمه لار فقط يوه لار ده: د پاک الله د عبادت څخه پرته،د بل هيچا بنده ګي او غلامي نه قبلول.افغانان د خارجي استعمار غلامي په هيڅ بيه نه قبلوي،افغاني «اروا په ابتدا کې دا منلي نه ده»،د داخلي غلامانو غلامي ډير کله درک کولى نه شي.ديني مشرانو د هيواد د خپلواکي په جګړو کې هميشه ستر او غوښ رول لوبولى دى.اما د هغوي اساسي دنده په ټولنه کې د ديني ارزښتونو ساتنه او پالنه ده.د ملي-آزاديبخښونکي نهضت سرښندونکو پوهانو تاريخي رسالت دى،چې دهيواد د خپلواکي غورځنګ مشري وکړي.مذهبي لاربښوونکو ته د وطن د خپلواکي او اداري چارې پرېښودل،داسي دى لکه د وطن د نازنين ناموس،د خپلواکي د ناوې هار ،چې د زرګر په ځاي آهنګر ته وسپارې. د دواړو خواوو څخه همدغې باريکي ته په بې غورى کې ،ديني چارې او سياسي چارې دواړه ګډوډې کيږي او دواړه خرابيږي.

دا ځل ښايي عام ولس او ملي شخصيتونه د موجوده فعالو تنظيمونو ،چې تر سپيږمو پورې په خپلمنځي شخړو کې غرق دي او د ښه او بد تفريق يې ناممکنه دى،د هيڅ يو دوامداره ملاتړ ونه کړي،بلکې د **هر تاکلي مثبت عمل** تر شا ودريږي.د ټاکلي عمل د ښه او بد جدا کول آسانه دى.که طالبان د خارجي پوځونو وتل غواړي او دولتي ډلې د هغوى د وتلو په لار کې خنډونه اچوي،ښکاره ده،چې د باندينيو وتل د هيواد او خلکو په خير دى.که سبا طالبان د سوټې په زور خلک په لمانځه ودروي،دا عمل په ښکاره ډول د (اکراه في دين)(په دين کې اجبار نشته) مخالف عمل دى،مخالفت يې بايد وشي...

عام ولس ددې ملک اصلي څښتن دى، هماغسي ،چې د باندينيو يرغلګرو په مقابل کې په سرښندني سره ودريږي،دا ځل ښايي د داخلي جګړه مارو ډلو په خلاف،چې وطن يې د جنګي اسير په توګه يرغمل نيولي هم مقاومت وکړي..ولس دا ځل بايد د خپلو مشترکو وجو پر محور يعني د اسلام سپيڅلى دين او افغاني وطنپالني د اصولو پر بنسټ د مملکت د راتلونکي اداري يعني د سياست فعال لوبغاړى وي.که نه د خپلواکى د تيرو جګړو په څير به د ګټي په ځاى ډير تاوان کوو.که هر يو د يوې مړى ډوډې پيدا کولو په کار کې بوخت شو او د مملکت چارې يادو ډلو ته پريږدو،د اوسني استعماري کفن کش دوعاګوى به مو کړي،بيا به جګړې وي،بيا به د کوم بل ناکس تيرى وي،بيا به مقاومت او تباهي...

په مجموع کې، د عام ولس او ټولو سياسي ډلو ترمنځ د سالم عقل سره سم ،**يو ټولنيز تړون** ته ضرورت شته دى،هغسې لکه ژان ژاک روسو،چې د خلکو او دولت ترمنځ د اړيکو توضيح کړې ده.په افغانستان کې اوس **د دوو اجماعو ضرورت** ليدل کيږي:

**۱- د غوره فعالو سياسي ډلو** (اساساً د اشرف غني ډلې،شمالي ټلوالي،طالبانو،حزب اسلامي)ترمنځ خپلمنځي اجماع او اتفاق(Konsens). ددې له پاره پکار ده،چې هر يو د خپلواکي او سولې مقدس ارمانونو له پاره، د خپلې سخت دريځى څخه اګاهانه او مسئولانه تير شي.که هر يو لکه تراوسه دوى پښې په يوه موزه کې ننويستلي پاتې شي،نو توافق او تفاهم ته نه شي رسيدلى.

**۲- د سياسي ډلو او عام ولس ترمنځ** توافق داسي،چې حاکميت به د خلکو په خوښه جوړيږي،نه د باندينيانو په ديکته لکه اوسنى.د دواړو اړخونو دندې به په اساسي قانون کې ټاکل کيږي.

په افغانستان کې که راتلونکى دولت ولس ته ،د لوديزو دولتونوپه څير خپلو اتباعو ته د ژوند (سوسيال)تامينات په غاړه نه شي اخيستلى،لاندې دندې خو سرته رسولى شي:

- سرتاسري امنيت تامينول؛يا حد اقل،چې خپله د جګړې باعث نه شي؛
- د کار وړ اشخاصو ته د کار ايجادول؛
- سرتاسري ښوونې او روزنې ته زمينه برابرول؛



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- له باندینیو مداخلو څخه د هیواد ساتل؛
**ولس به دولت ته :**
- مالیه ورکوي؛
- او خپل استازي به په پآرلمان کي کښینوي؛
د ریښتیني عنعنوي جرګو(نه لکه د وروستیو وختونو فرمایشي جرګو) سره ،په خورا آساني د مملکت په چارو کي د خلکو ونډه ،د هغوی ریښتیني استازو(نه د پیسو او زور) له لاري تامینیدلی شي.همدغه د دموکراسي زړی دی.
لدي سره به دولت او ولس لکه څنګه ،چي په طبي وقایه کي د چاپیریال سالم ساتلو له پاره ،د «خبیثه مثلث» (مرض،فقر او ناپوهي) سره یو ځایي مبارزه توصیه کیږي، د روان تولنیز بحران علاج له پاره ، په همدغو دریو لورو کي ګډه مبارزه کوي:

- ددي تولني اساسي رنځ روانه جګړه ده او اوسنی جګړه د اشغال محصول دی.ولس او ټول سیاسي سازمانونه باید سر له اوسه ،لاس یو کړي او خارجي پوځونه د جګړي اصلي علت په توګه له هیواده رخصت کړي.ټولي سیاسي ډلي او عام ولس بنایي په دغه حساس وخت کي خپل تاریخي مسئولیت درک کړي او د سولي لاسلیک شوی تړون په دقیقه توګه عملي کړي او خارجي پوځونو ته د پاتي کیدو هیڅ بهانه په لاس ور نه کړي.که د سولي په لار کي اشرف غني «پاټکونه» اچوي او که عبدالله په بدماشي سره «دویم بن»غواړي،باید مخالفت یي وشي.د لومړي بن غمیزه لا پای ته نه ده رسیدلې.د خپل هیواد د ازادی په لار کي خند ګرځیدل تاریخي خیانت دی. اوس، د وطن څخه د خارجي قواوو د وتلو زمینه برابره شوي او دوی راته د ٪ ۵۰ او دویم بن په غم کي دي.دا رواني تکلیف نه دی نو څه دی،لیونتوب تور وي که سپین! سالم عقل داسي نه وي.ټول خلک باید په ګډه د اعتراض غږ پورته کړي.د خلکو په غږ کي خدایي زور پروت دی.

- فقر او اقتصادي مجبوریتونه د افغانانو دویمه ستره ستونزه ده.همدغه بیوزلی خلک مجبور کړي،چي د یوي مړی ډوډی پیداکولو له پاره ملي مسایلو ته شا کړي،په همدې غم کي سره ورک شي؛همدغو اقتصادي مجبوریتونو زموږ سیاسي مشران اړ ویستلي ،چي باندینیو مرستو ته لاسونه اوږده کړي او خپل ملي وقار څخه تیر شي.دا وطن د زیرمو له پلوه خورا شتمن دی.طبیعي شتمنی یي لاس ناوهلي د خاورو په تل کي پاتي دي.صنعتي هیوادونه د همدغو زیرمو له پاره افغانستان ته راشیوه کیږي.زموږ د تورو سترګو لیدو له پاره نه راځي. له بلي خوا،په غریبي کي هم آبرومندانه ژوند ممکن دی.غریبي عیب نه دی.غلامي عیب دی،غیرانساني دی.په خپل مټ تکیه کول،په خپلو دننیو امکاناتو بسیا کول د ډیرو غمیزو مخه نیسي.ځوک ،چي «امریکایي سګرټ ، په روسي ګوګرد » لګوی ،خپله اوهیواد به یي همداسي اور اخلي.د سترو دولتونو سره د «دوري او دوستي» د اصل پیروي پکار ده.
- په ننني نړی کي د لیک-لوست له نعمت څخه محرومي او په کل کي ناپوهي زموږ د خلکو دریمنی اساسي مشکل دی.

کاني لعل د بدخشان،بوتي کیمیاده
چي یي نه پیژني ته ګناه د چا ده!

که علم فرض دی،زموږ خلکو څومره دا فرض أدأ کړی دی!ددي فرض به هم هرومرو پوښتنه کیږي.زموږ خلک ډیر کله د خپلي بي خبری او ناپوهی له کبله په رنځونو اوړي.سیاستوال مو د نړی د سترو سیاستونو د شطرنج لوبي مبتدیان دي،ځکه لوبي بایلوي.ولس مو د خپل رنځ له ریښو خبر نه دي او نه یي په درمان پوهیږي.که مو ملي شعور پوخ وای، په هیوادني مسایلو کي مو خطایي او بي پروایي نه کوله.پوهنه رڼا ده.په رڼایي کي غل او مل ښه پیژندل کیږي که د طبي وقایي د «خبیثه مثلث» سره ،زموږ د تولني او خلکو دوه نور غوره خباثتونه ذکر کړو ،نو یو «خبیثه مخمس» تري جوړیږي،چي د حل لاري باید په ګډه ولټول شي.نوموړي ستونزي دادي:
- داخلي بي اتفاقي او جنګ-جګړي.خوشحال ختک زموږ د ټولني له دغه زوړ رنځ څخه ډیر پخوا نالښت کړی دی:

پښتانه به اتفاق سره و نه کا
که نه ما به د مغل ګریوان پاره که

دا کرونیک رنځ دی، دوا یي داده،چي د رنځ ریښي پیدا او له بیخه وویستل شي او دا ریښي ډیري ژوري دي.
- د خلکو او سیاستوالو رواني تکلیفونه،چي په خپله د روانو جګړو محصول دی.د افغانستان ټول خلک ،بلا استثنا په بیلابیلو رواني رنځونو اخته دي.زموږ د ټولني ۱/۵ ستونزي عیني ریښي نه لري،بلکي ذهني دي،رواني دي،چي خپله سیاستوالو د خپلو ذهني رنځونو له کبله خلقي کړي دي.ددي رنځ علاج په دی نسل کي نشته.دومره درمل یي شته ،چي یو د بل په ټپونو(تراوما) ونه لګیږو.که اګاهانه یا غیر اګاهانه ولګیدلو،نو د بل غیرارادي چغ خیږي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

په مجموع کي،«خارجي استعمار،داخلي غير ولسي،استبدادي واکمنيو او په ټولنه کي حاکم خرافات »- ټولو سره په ګډه افغاني ټولنه له اصلي لارې -صراط مستقيم څخه منحرف کړې ،د بحران او رکود سره يې مخامخ کړې ده.ددې ټولو له منځه وړلو پرته ،دا ټولنه ښه ورځ نه شي موندلی.

په اوسنی بحراني وضعه کي د خلکو رويه،چلند او اخلاق هم په ابتذال کي دي، پر دې بنسټ ،ټول خلک په څلورو کته ګوريو ويشلی شو:

- زيات شمير خلک نه علم لري او نه تقوا؛
- يو شمير خلک ټولنيزه تقوا لري ،اما علم نه لري؛
- يو شمير بيا علم لري ،خو تقوا نه لري؛
- کم شمير کسان شته،چي هم علم لري او هم تقوا.

څلورمه ډله خلک ،چي خورا نادر او کميابه دي،اما لا هم شته دي.د هيواد د روان بحران څخه د وتلو له پاره همدغه ډله خلک پکار دي،چي بايد سره پيدا ،راټول،يوموټی او د ولس سره يو غورځنګ شي .د ولسي غورځنګ او هيواد رهبری ته د دا ډول شخصيتونو وړاندې کول خورا ضروري او حتمي دی.که څه هم دا کارڅه خيالي ښکاري ،اما عملي دی،پدې شرط،چي عام ولس او نوموړي شخصيتونه يو بل پيدا ،يو بل درک او يو پر بل باور پيداکړي.په وروستيو څلورو لسيزو کي د هيواد هيڅ يو مشر ،په هر علت چي وُ، ونشو کولای وطن له روان بحران څخه وژغوري،نو ځکه د ناکامو رهبرانو د لقب وړ دي او د ناکامو رهبرانو ثنا او پيروي نه ښايي،سرې برياليتوب ته نه رسوي.ټول بايد د داسي مشرانو په لټه کي شو،چي د ولس له بطنه زيږيدلي ، په ولس کي رالوی شوي وي او د موجوده بحرانه څخه د هيواد د ويستلو قابليت ولري ،ملاتړ يې وکړو او د برياليتوب وروسته يې که ثنا ووايو،کيدی شي.**دوه سپيڅلي ارمانونه** شته ،چي ښايي د مشروطه غوښتونکو غورځنګ په څير، د هيواد ولسي مشران او عام ولس پرې راټول شي:

- د هيواد خپلواکي؛
- د هيواد ترقي.

يوموټی پوهان،چي ټولنيزه تقوا ، سپيڅلي ارمانونه او ولسي ملاتړ ولري،د هر ډول خارجي او داخلي جګړه مارانو څخه پياوړی قوت کيږي.د هيواد د خپلواکي او ترقی غورځنګ ښايي د مشروطه غوښتونکو پلونه تعقيب کړي،اما د هغوی تيروتنو ته په پام سره ،د نيمايي هدف په لاس ته راوړلو قناعت ونه کړي ، غورځنګ په نيمه لار پله بينانو ته پرې نه ږدي ،تر آخره د هيواد د استقلال او پرمختګ ساتنه او پالنه وکړي ،راتلونکي نسل ته يې په امانتداری سره وسپاري او د ساتني او تعقيب سپارښتنه يې هم په ايمانداري سره وکړي.

هر عالم که په ټولنيزه تقوا سره،چي تراوسه يې ځان د فساد له ټولو ډولونو: قتل،غارت،فحش،رشوت،اختلاس،داړه ماري،دوکه بازي،د باندينيو دلالي،د نيشه يي توکو سوداګري...څخه ساتلی وي،د وطن ژغورني له پاره متي بډ وهي ،سربښندني ته حاضر شي،دخپلو خلکو ملاتړبه هم ترلاسه کړي،پاک رب به يې هم سينه دومره ارته کړي،چي د هيواد ټولي ستونزې په کي حل شي.هر عمل ،چي په علم او تقوا سره بنا شي،حکمت کيږي،الهي اراده له ځان سره لري او په هرکار کي ،چي خدايي اراده وي،هغه د افغان ولس ملاتړ هم پيداکوي او هرومرو برياليتوب ته رسيږي.همدغه سيده،د فلاح لار ده.

د ميني وړهيواد د خير په هيله

---

***ګل مي کره يار راته ناست وُ چي ګلان ګل شول يار مي توری خاوری خورينه***

**د اروابناد دوکتور عبدالحنان خوشحال ساپي د لاربنووني په رڼا کي**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ